# اخند زاده د موټر چلولو او تخنيکي زده کړې مرکز

## Akhundzada Driving & Technical Course




Ketabton.com

[redacted]

پتې:

۱_جلال آباد ښارپښتونستان واټ شرين دل پلازه
۲_کابل کارته نو دريم سړک داسلامی بانگ ترخنگ
۳_کابل دپنجصد فاميلی څلور لاری
٤_دلغمان ولايت مرکزمهترلام بابابنار محمد رحيم چوک زرقاوی چوک

0773177866 - 0780180280 - 0799722255 - 0780949195

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د موټر د تخنیکی روزنې موخه

د وسایطو چلوونکی(ډرېوران) باید د تعلیمي پروګرام په جریان کې د موټرو په ټولوهغه اساسي تخنیکی خواصو باندې پوه شي چې د نقلیه وسیلو د ساتنې او څارنې( پاملرنې) لپاره لازم دي. ترڅو له چالانولو څخه وړاندې د فعالیت پر مهال او له فعالیت نه وروسته دهغو د تخنیکی عوارضو پرمهال، او همداراز په سیمه کې دهغو تخنیکي عوارض رغونه ئې سرته ورسوي.

## د تخنیک له تدریس څخه موخې

- د تدریس پلان په مختلفونظري میتودونو په صنف کې دسلایډ، تصویرونو او د موټر دپرزه جاتو په ښوولوسره.
- د ساتنې او څارنې په اساسي میتودونو سره د لوست زده کول.
- د تخنیکی عوارضو له رامنځته کېدو څخه د مخ نیوي اساسات.
- په فنی او اساسي ډول په عمومی واټونو باندې د ډرېوری زده کول.
- د کورس پر مهال، اود کورس له پای نه وروسته د درسونو او زده شویو مهارتونو ارزیابي.

## د ټرافیکی اصولو او قواعدو د تدریس موخې

- د ټرافیکی واټ نظم او امن د تأمین، له ټرافیکی پېښو نه اوهمدا راز دهغو (ټرافیکي پېښو) له امله د ځانی او مالی زیانونو څخه د مخنیوي لپاره.
- ګرانو وطنوالو له ټرافیکی قواعدو او اساساتو، ټرافیکي علایمو(نښو) او تأسیساتو سره آشنائي او معلومات لرل ضروری دي.

احتیاط له دور اندیشی سره ارتباط لري، کله چې انسان د واټ له ټرافیکي قواعدو او مقرراتو څخه لازم معلومات ولري او په ډېرې پاملرنې او په احتیاط سره سیر او حرکت وکړي نو په یقینی ډول تر ډېره حده د ټرافیکي پېښو له رامنځته کېدو او له امله ئې د مالی او ځانی تلفاتو څخه مخ نیوی کېدای شي.

هیله ده چې دغه لنډه رساله د واټ د ټرافیکو د امن او نظم لپاره اغیزمنه او د ځانی او مالی زیانونو د دفع کېدو( له منځه تلو) سبب وګرځي.

(اخندزاده)

ګرانو هېوادوالو ته دخدمت مصدر!

مطیع الله (اخندزاده)( زابل)

محمد آغا (اخندزاده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی لوست

## درېور (موټرچلوونکی):

درېور هغه چاته ویل کېږي چې وسایط سوق، کنټرول او اداره کړي.
او د ټولو ټرافیکي اصولو او قواعدو علم ولري.

## له حرکت نه وړاندې د درېور مکلفیتونه( مسئولیتونه):

- درېور مکلف دی چې د موټر د ماشین له چالانولو(روښانه کولو) نه وړاندې دهغه ټول روغنيات چک او تکمیل کړی.
- درېور مکلف دی چې د وسایطو ملکیت پاڼه یا اجازه لیک ولري.
- درېور مکلف دی چې له ځان سره جواز سیر او د موټر چلولو جواز (لایسنس) ولري.
- درېور مکلف دی چې له حرکت نه وړاندې د خپل موټر جدی څارنه وکړي (پاملرنه ورته وکړي)
- درېور مکلف دی چې هغه سامانونه چې په موټر پورې اړوند(مربوط) دی له ځان سره ولري، او د ژمي په موسم کې هغه ژمنی تجهیزات چې ضروری (اړین) دی له ځان سره ولري.
- درېور مکلف دی چې له حرکت نه وړاندې د دروازو له بندښت څخه اطمینان حاصل کړي (ځان ډاډمن کړی) او په پایدان کې د سوارلی له شتون اود موټر په بام د سوارلی له شتون څخه مخنیوی وکړي

ضروری سامانونه(شکل)













(c) ketabton.com: The Digital Library



## له حرکت کولو نه ورسته د دریور مکلفیتونه (مسئولیتونه)

دریور مکلف دی چې د دریوری پر مهال د دریوری تربیه ، غوره اخلاق او نیک برخورد ولري.

دریور مکلف دی چې په اساسي قاعدې باندې رفتار وکړي چې هغه عبارت دی له:

الف: نورو ته مانع نه گرځېدل

ب: او د نورو نه زیانمن کول

ج: او له خطرسره د نورو نه مخ کول

د: د نورو د اولیت حق مراعت کول(په پام کې نیول)

- دریور مکلف دی چې له موټر څخه د کښته کېدو پر وخت د سویچ کلی له ځان سره واخلي او هېره نې نکړي.
- دریوربايد په مارپیچ (زیگزاگ) ډول دریوری ونکړي
- دریور مکلف دی چې په عمومي واټونواو څلورلارو کې د سیر او حرکت ترافیکي قانون مراعت کړی.
- دریور مکلف دی چې هر وخت او هره شببه احتياط خپل مسئولیت وګڼي.
- دریور مکلف دی هغه تېرېدونکو(خلکو) ته چې له سرک څخه تېرېږی د لومړیتوب حق ورکړي.
- دریور مکلف دی چې هغه مهال چې د لیدنې ساحه ونلري د خطر احساس وکړي اود خپل موټر سرعت راکم کړي.
- دریور مکلف دی چې له ماشومانو، ښځینه وو، سپین ږيري او معیوبینوسره ډېره همکاری وکړي.

## دوهم لوست

د موټر د جوړښت عمومي البُم




ترتیب کوونکی:محمد اغا (اخندزاده)او مطیع الله (اخندزاده زایل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشین له ۳ غټول پرزو څخه جوړ شوی :

۱. سلندر هید



۲. سلندر بلاک



۳. کرین کس



سلف



کمشافت



کرنشافت





ټربو



پستون



فلتر تیل



فلتر موبلایل



واټر پمپ





ګاسکیټ



فلاویل

کلچ پلټیټ

دیسک



ټایمنګ بیلټ

امپیر بکسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انجن (ماشین):

انجن له یوې حرارتي دستګاه څخه عبارت ده چې د داخلی احتراق (سوزوني) له امله حرارتی انرژي په میخانیکي انرژۍ تبدیلوي او په عمومی صورت په موټرو کې د قدرت یا قوې د تولید له سرچینې څخه شمېرل کېږي.

د انجن د سوخت (سوزولو) توکي معمولاً د تیلو او هوا یو مخلوط وي چې د انجن د سوزولو د عملیې لپاره زمینه برابروي.

د سوزېدو عملیه اساساً د سلنډربلاک د ننه کې پېښېږي چې د یو لړ داخلی عملیو پواسطه صورت نیسي.



د ماشین شکل

انجن په عمومي ډول د څلورو عملیو لرونکی وي

۱- د سکشن عملیه ( د تیلو او هوا را کشول).

۲- د کمپریشن عملیه( د تیلو او هوا فشار او متراکم کول).

۳- د احتراق (سوزېدو) عملیه (فایرینګ) (اور اخیستل او د توکو انفجارياچاودل).

۴- د اکزاس عملیه ( د کاربُن یا دسوزېدونکو توکو د دود وتل)




سکشن کمپریشن احتراق اکزاس

په عمومی ډول ماشینونه په دوه ډوله دی.

الف: ډیزلي ماشینونه.

ب: پطرولي ماشینونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ماشين له درې عُمده برخو څخه جوړ شوی دئ چې له سلنډر هيډ، سلنډر بلاک او کرنکس څخه عبارت دی.

**سلنډر هيډ:**

سلنډر هيډ د ماشين پورتنی برخه ده چې د ماشين دوه عمليې سرته رسوي (سکشن) او (اکزاس) په سلنډر هيډ کې دوه ډوله والوونه دی.

سلند هيد



**الف: د انګليټ والونه:**

چې د دې والو له لارې څخه تېل او هوا سلندر ته دننه کېږي.

**ب: دايکزاس والونه:** چې د دې والونو له لارې د سوزېدونکو توکو کاربن (دود) بېرون ته وځي.



**سلنډر بلاک:**

سلنډر بلاک د ماشين له مرکزي برخې څخه عبارت دی چې منځ کې ئې ګيلاسونه او پستونونه ځای لري او په ګيلاسونو کې ئې د احتراق (سوزېدو) دعمليې قوه پستونونو ته انتقا لېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





سلندر بلاک

**کرنکس:**

کرنکس د مبلا یلو له ذخیره ځای ځخه عبارت دی چې د ماشین په ښکتنی برخه کې واقع ده چې د مُبلا یلو د پرې کېدو او توئېدو په صورت کې په سویچ بورډکې د آئل پمپ اشاره روښانه کېږي.



کرنکس

**دریم لوست**

**کرنشافت:**

کرنشافت د ماشین یوه اساسي پُرزه ده.

کرنشافت له د وه خانو یعنی مېن برنګ او فیس برنګ ځخه جوړ شوی ده.

کرنشافت د پستونونو خطی حرکت په دوراني حرکت باندې بدلوی او حرکت د ماشین ټولو پُرزه جاتو ته رسوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماشین کرنشافت او ګیلاسونه تر ۴ ځله پورې د بورکېدو وړتیا لری چې د ماشین په هر ځل بور کېدو کې ٪۲۵ پتره فیس او مین او پستونونه ډبل
کېږي او برعکس کرنشافت او ګیلاسونه ٪۲۵ کمېږي.
کرنشافت دغیر ارادی ټکانونو او زیات بارولو په صورت کې کږېږي او یا ماتېږي اودهوا دفلتر نه پاکول، د مُبلایلونه بدلول او د ماشین له حده ډېر ګرمېدل د کرنشافت او د ماشین د نورو پُرزو د سولېدو او حتی د ماشین د جام کېدو سبب ګرځي

**رینګونه:**

په یو پستون کې ۳ ډوله رینګونه وي.

۱- د آیل رینګ: چې د پستون په ښکتنی برخه کې قرار لری او مُبلایل د ګیلاسونو سطحې ته رسوي.

الف :ایل رینګ



۲- د سکشن رینګ: چې د پستون په منځنی برخه کې قرار لري او وظیفه ئې د ګیلاس د سطحې پاکول دي.

ب: سکشن رینګ



۳- د کمپریشن رینګ: د پستون په پورتنی برخه کې قرارلري چې وظیفه ئې پریس کول یعنی د ګیلاسونو په منځ کې په تېلو او هوا باندې د فشار راوستل او د ګیلاسونو له منځ څخه د کاربن (دود) ایستل دي.

ج:کمپریشن رینګ



(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوا د فلتر نه پاکول ، د ماشین له حد څخه ډېر ګرمېدل، او پر خپل معین وخت کې د مبلایلو نه تبدیلول د یادو رینګونو د سولېدو او حتیٰ د ماشین د مبلایل د کمېدو سبب ګرځي.

## څلورم لوست

**کمشافت:**

کمشافت له یوې وسپنیزې میلې څخه عبارت ده چې د سلنډر هیډ په داخل کې موقعیت لري.
د کمشافت وظیفه د انکلیټ او اکزاس والونو ښکته اوپورته کول دي.
ټایپټونه له کمشافت سره د والونو ارتباط ورکوونکی دي. د ټایپټونو اجست د ماشین په فعالیت او چالانېدو یا روښانه کېدو کې مهم رول لري چې باید په ژمی کې ضعیف او په اوړي کې نسبتاً قوی اجست شي.

کمشافت



**ګازکیټ:**

ګازکیټ له نه سوزېدونکي واشل څخه عبارت دی چې د سلنډر هیډ او سلنډ بلاک په منځ کې نصب کېږي.
ګازکیت د سلنډر په داخل کې د کمپریشن د عمل کنټرولوونکی دی او مبلایل او اوبه یوله بل څخه بېل ساتی.

ګازکیټ



ګازکېټ له ۸۰ درجو څخه د ماشین د زیات ګرمېدوله امله له منځه ځي چې دا د اوبو اومبلایلو د یو ځای کېدو او حتیٰ د ماشین د جام کېدو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم لوست

## په ماشین کې د مبلایل رسولو سیستم

**مبلایل:** د دوه متحرکو (گرځنده) پُرزو ترمنځ له سولېدو او اصطکاک څخه مخ نیوی کوی تر څو یاد پُرزه جات وکولی شي چې یود بل پرسطح باندې په یوه معینه او مناسبه فاصله کې حرکت وکړي او د پُرزه جاتو ډېری فشار مبلایل پورته کوي او دا عملیه باعث کېږي چې د ماشین د پُرزه جاتو له سولېدو څخه مخ نیوی وشي.

### آئیل پمپ

آیل پمپ دغوړولو په سیستم کې یوه مهمه پُرزه ده چې له ذخیره گاه څخه مبلایل اخلي او فلتر ته ئې رسوي او له تصفیه کېدو څخه وروسته مبلایل په دوه کانالونو وېشل کېږي چې یو کانال ئې سلنډر بلاک ته تللی چې کرنشافت او د گیلاسونو سطحه غوړوي او بل کانال ئې سلنډر هیډ ته تللی چې کمشافت او ټاپیټونو ته مبلایل رسوي.




**د مبلایلو تبدیلی (بدلول)**

د مبلایلو تبدیلول د ماشین گرځېدو او د مبلایلو مقاومت ته په کتو تر سره کېږي. هر کله چې د مبلایلو د سریښناکتیا خاصیت له منځه لاړ شي نومبلایل هم باید تبدیل کړل شي.

**نوټ:** هر وخت چې مبلایل تبد یلېږي نو باید د مبلایلو فلتر هم ورسره تبدیل کړل شي. او که ماشین ئې ډیزلي وي نو د تیلو فلتر ئې هم باید تبدیل کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هوا فلتر:**

د ماشین د هوا فلتر چې د فلتر کور(فلتر پوښ) په منځ کې موقعیت لري. هغه هوا چې ماشین ئې تنفس کوي لومړی فلتر ته ننوځي، هغه گرد او خاورې چې له هوا سره ګډې وي په فلتر کې تصفیه  او بیا فلتر شوې هوا د ماشین داخل ته انتقال مومي.

فلتر باید د موټر گرځېدو او د هوا  ککړتیا ته په کتو سره پا ک کړل شي.







د هوا فلتر

## شپږم لوست

### په ماشینونو کې د تېل رسولو سیسټم

**الف: په ډیزلي ماشینونو کې د تېل رسولو سیسټم:**

**ډیزل پمپ:** کله چې ډیزل پمپ په فعالیت پیل کوي، له ټانکی څخه تېل کشوي او فلتر ته ئې ورکوي. د فلتر له تصفیې نه وروسته  ډیزل پمپ ته انتقال مومي او له ډیزل پمپ نه تېل فلنجر ته انتقال مومي چې فلنجر فارسنگونو ته د تېلو وېشونکی دی.



شکل

بیا فارسنگونه تېل په لوړ فشارد سپرې یا گازو په شکل په سلنډر باندې پاشي او په سلنډر کې له هوا سره یو ځای کېږي او له کمپریشن کېدو نه وروسته اور اخلي او سوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ب: په پطرولي ماشینونو کې د تېل رسولو سیستم:**

هغه پُرزې چې د پطرولی ماشین د تېل رسولوپه سیستم کې شامل دي عبارت دي له ویکم پطرول ، فلتر اوبرقی فارسنګونو څخه.










ویکم پطرول له ټانکی څخه ماشین ته د تېلو پمپ کوونکی دی، کله ئې چې تېل له ټانکی څخه کش کړل، بیا تېل فلتر ته ورکوي، فلتر تېل تصفیه کوي او وروسته ئې بیا فارسنګونو ته رسوي.
فارسنګونه تېل د سپرې په شان د اینګلیت په کانال باندې پاشي چې د اینګلیټ په کانال کې له تنفس شوې هوا سره یو ځای کېږي، او وروسته بیا سلنډر ته دننه کېږي او د پلګ د جرقې پواسطه اور اخلی او سوزي او ماشین چالانېږي چې اضافی تېل ئې د بېرته تلونکي پایپ پواسطه بېرته ټانکی ته لېږدول کېږي.

**توربو:**

له یوه مرسته کوونکی سیستم څخه عبارت ده چې په ځینو موټرو کې د قدرت د زیاتولو لپاره نصب کېږي. توربو د ماشین په دوه عملیو (سکشن) او(اکزاس) کې مرسته کوي. یعنی په زیاته اندازه تېل او هوا ماشین ته رسوي او د سلنډر له منځ څخه دود ډېرژر اوپه کم وخت کې وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






شکل

## اووم لوست

**په موټرو کې د برق سیستم:**

**بطری:**

بطری د برېښنا له ذخیرې څخه عبارت ده چې برېښنا یې د موټرو لپاره مصرف کېږي.
بطری د دوه قطبونو(شمعو) لرونکی وي. چې له مثبت او منفی قطبونو څخه عبارت دي چې مثبت ئې د (+) په علامې او منفي ئې د (-) علامې پواسطه نښه شوي دي.
چې په موټرو کې مثبت قطب یی د سویچ له لاین سره ارت کېږي او منفی قطب ئې د باډی له لاین سره نښلول کېږي.




شکل




په بطریو کې دوه ډوله پلیټونه وي چې د پلاستیکي عایق(پردې) پواسطه یو له بل څخه جلاکېږي.
بطری شپږ خانې لري چې هره خانه ئې (۲) ولټه برق لري چې ټول (۱۲) ولټه کېږي. بطری د ولتاژ (برقی جریان) له نظره یو ډول دي صرف د امپیر(ذخیرې) له نظره یو له بل څخه توپیر لري. چې په ګرندیو موټرو کې له هغو بطریو څخه ګټه اخیستل کېږي چې له ۴۰ امپیرو څخه تر ۷۰ امپیرو پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر په سترو نقلیه وسیلو یا موټرو کې له هغو بطریو څخه ګټه اخیستل کېږي چې له ۷۰ څخه تر ۲۰۰ امپیرو پورې وي.
او همدارنګه په سترو نقلیه وسیلو کې له دوه بطریو څخه چې (۲۴) ولټه کېږي ګټه اخیستل کېږي.
**نوټ**: د موټرو په بطریو کې د اوړي په موسم کې له نسبتاً ضعیفو (کمزور) تېزابو څخه او د ژمي په موسم کې له نسبتاً قوی تېزابو څخه ګټه اخیستل کېږي.

**سلف:**

سلف د خاموشی په وخت کې د انجن له چالانونکی یا روښانه کونکی څخه عبارت دی. کله چې ماشین چالان (روښانه) شي د سلف کار پای ته رسېږي.

شکل






**د سلف د سوزېدو علتونه:**

لومړی: دوامداره (پرلپسې) سلف وهل:
دوهم: په ګړندیو (تېزرفتاره) موټرو کې چې سلف ئې (۱۲) ولټه وي له دوه بطریو څخه چې ولتاژ ئې (۲۴) ولټه کېږي ګټه اخیستل.
دریم: هغه مهال چې موټر په ګېر کې وي د سلف څخه کار اخیستل.

**ډاینمو:**

ډاینمو په موټرو کې د برق له تولیدوونکي اودبطری له چارجونکي څخه عبارت ده.
ډاینمو خپل حرکت له کرنشافت څخه اخلي. ډاینمو میخانیکی قوه په برقی باندې بدلوي.

شکل



(c) ketabton.com: The Digital Library



## پلکو:

پلکو د پلک په خانو باندي په نوبت سره د برق له وېشونکي څخه عبارت ده.
پلکو خپل حرکت له کمشافت څخه اخلی. پلکو یواځې په پطرولي موټرو کې شتون لري.



## د روښانه کولو (چالانولو) سویچ:

د روښانه کولو سویچ له منفی لاینونو سره د برقی لاین له وصل کولو څخه عبارت دی چې د روښانه کېدو(چالانېدو) په وخت کې یو له بل سره په ارتباط کې کېږي او د خاموشولو په وخت کې د برق جریان پرېکوي.

د ګرندیو ډیزلي موټرو په برقی سیستم کې د برق جریان له بطری څخه په تولیز ډول سویچ ته او له هغه ځای څخه بیا د ډیزل پمپ کانډنسر ته جریان پیدا کوي او همدارانګه د ګرم کن په پلکونو کې دانجن د ژر چالانېدو په موخه مرسته کوي.

## امپیر بکسه:

امپیر بکسه چې د موټر په سویچ بورډ کې ډرېور ته مخامخ قرار لري او ډرېور ته د موټر داساسی فعالیت له تغیر څخه خبر داری ورکوي






(c) ketabton.com: The Digital Library



**د موټر څراغونه:**

یو موټر د (۱۶) بهروني قانوني څراغونو لرونکی وی او همدارنګه د موټر په شا کې دوه درنا منعکس کوونکې شیشې ضروري دي.







## اتم لوست

**د اګریګات سیستم:**

**کلچ:**

کلچ له یو اتصالیه (وصل کوونکی) سیستم څخه عبارت دی چې د انجن او ګېربکس تر منځ ارتباط وصلوی او پرېکوي. کله چې د کلچ پایډل نیسو د انجن او ګېر بکس ارتباط پرې کېږي او کله چې د کلچ پایډل خوشې کړو نو دانجن اوګېر بکس تر منځ ارتباط وصل کېږي. چې پدې سیستم کې لاندې پُرزې کار کوي .

شکل






(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګیر بکس:

ګیر بکس په موټر کې د قوې او سُرعت له تنظیموونکي څخه عبارت ده چې په ځینو وختونو کې ارتیا ته په کتو سره سُرعت زیاتوی او قوه کموي. او په ځینو وختو کې قوه زیاتوی او سُرعت کموي.
مثلا: په لومړی ګیر کې قوه فوق العاده زیاته او سُرعت کم وي. برعکس په دریم، څلورم او پنځم ګیرکې سرُعت فوق العاده زیات وي او قوه ډېره کمه وي.همدارنګه د ریورس حرکت په ګیر بکس کې عیارېږي.

شکل



### له اتومات ګیربکسونو څخه د ګټې اخیستنې طریقه:



P : د پارکنګ یا د ډیر وخت درولو په حالت کې د استفادی وړ وی

R : د ریورس یا په شا تګ حالت کی د استفادی وړ وی

N : د نیټل په معنی ( دګیر نه وتلی حالت)

D : کله چې د موټر سرعت د ۴۰ نه پورته شي تر نهای سرعته پوری د اسفادی وړ وی

2: د اول حرکت نه تر ۴۰ سرعت پوری د استفادی وړ وی

L: قوت لرونکی ګیر چې د موټر د نښلیدو او په موړنو په ختلو کی د استفادی وړ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نیورسل:**

نیورسل له ګېربکس څخه کرومیل ته د حرکت انتقالونکی دی نیورسل له یوې اوسپنیزې میلې څخه عبارت دی. په نیورسل کې یو بادی سنټر وی چې نیورسل په متوازن حالت کې ساتي.

شکل



**کرومیل:**

هغه دورانی حرکت چې د نیورسل پواسطه له ګېربکس څخه کرومیل ته انتقالیږي او کرومیل دغه دورانی حرکت ته د ۹۰° درجو په اندازه تغیر ورکوي اوحرکت د ښي اوکیڼ لور اکسل ته وېشي.
اکسلونه دغه حرکت د نقلیه وسیلو پایو ته انتقالوي. اکسلونه د نقلیه وسیلو په پایو کې نصب کېږي او ټایرونه په حرکت راولي چې د نقلیه وسیلې د حرکت سبب ګرځي.
او همدارنګه په ګولائي کې د ټایرونو د حرکت تنظیموونکی دی. یوې خواته د ګرځېدو پروخت د هماغه خواټایرحرکت ډېر کمزوری کوي او د هغه د مقابل ټایر حرکت نورمال حد کې پرېږدي.




نوټ: په ساده ګېر بکسونو او د نقلیه وسیلو په کرومیل کې داسې سیائیل نه ګټه اخیستل کېږي چې له یوې اوږدې مودې نه وروسته سیائیل باید تبدیل کړل شي، د سیائیل کموالي او نه شتون د ګېر بکس او کرومیل د جام کېدو سبب کېږي.

**په نقلیه وسیلو کې د بریک سیستم:**

د نقلیه وسیلود بریک سیستم په دوه ډوله دی.

الف: دویکمي بریک سیستم ب: د کمپریشنی بریک سیستم.

**الف: د ویکمي بریک سیستم:**

د ویکمی بریک له سیستم څخه په ډېرو کوچنیو نقلیه وسیلو(ګرندیوموټرو) کې ګټه اخیستل کېږي. د ویکمي بریک د فعالیت طریقه داسې ده چې د بریک د پایډل د فشار پواسطه ویکم له ماسترسلنډر څخه په فشار سره جریان پیدا کوي او څلورو واړو پایوته فشار انتقالېږي. په پایو کې د بریک یو ویل سلنډر شتون لري چې په نهایاتو(څوکو) کې ئې دوه طرفه لیډرې شتون لري چې د ویکمو فشار د بریک ویل سلنډر په حرکت کې راولي او په ښي او کيڼ لوري لیډروباندې فشاروارد وي چې د ټایرونو د حرکت مانع ګرځي. پدې سیستم کې د ویکمو تکمیلېدل(بشپړتیا) او د لیډرو روغوالی مهم رول لري.







**ب: د کمپرېشنی بریک سیستم:**

پدې سیستم کې د ویکمو په ځای له هوا څخه ګټه اخیستل کېږی چې د موټر د انجن په څنګ کې یو کوچنی د هوا تولیدوونکی ماشین شتون لری چې د هوا ماشین د نقلیه وسیلې د ماشین د پنج بولټ پواسطه په حرکت کې راځي او هوا تولیدوي. او دا هوا د نقلیه وسیلې په ذخیروې ډ به کې ځای پر ځای کېږي او له هغه ځایه د پایډل د فشار پواسطه هوا پایو ته انتقالېږي چې د هوا دغه فشار د بریک د ویل سلنډر د تحریک باعث کېږي او د ویکمي بریک په څېر ښی او کيڼ خواته لیډرونه د درم په سطحه باندې نښلوي او د ټایرونو د حرکت مانع ګرځي چې پدې سیستم کې د مکملې هوا تولید، د هوا د پایپونو روغوالی او د لیډرو روغوالی خورا اهمیت لري.

## روغنیات

**۱- مبلایل:** د شنه رنګ لرونکي او نسبتاً ټینګ دي او غوړوونکی خاصیت لري چې د ماشین د پُرزه جاتو د غوړولولپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

**۲- سیائیل:** سیائیل اکثراً د سور رنګ لرونکی اود مبلایلو په نسبت ډېر ټینګ وی عموماً د نقلیه وسیلو په ساده ګېربکسونو اوکرومیلونوکې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

**۳- هایډرولیک:** هایډرولیک سور رنګ لری او د ښه پریس کولوخاصیت لری د مبلایلو اوسیائیلو په نسبت نري وي چې په اتومات ګېر بکسونو، اشترینګ پاورونو او په درنو وسایطو کې خصوصاً په کرند، شاول، لوډر او بېلډوزرو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

په اتومات ګېر بکسونو کې له هایډرولیک څخه پدې منظور ګټه اخیستل کېږي چې په هغه کې د وایرینګ سیستم دی که سیائیل پکې استعمال شي د هغه د وایرینګ د جام کېدو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- د بریک ویکم:** ویکم آسماني رنګ لري او د پریس او فشار ښه خاصیت لري د نقلیه وسیلو دټولوروغنیاتو په نسبت نري دي. چې د بریک او کلچ په ماستر سلنډرونو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

## لسم لوست

### په ماشین کې د یخولو سیستم:

د انجن په داخل کې د تودوخې د درجې د کمولو په موخه د یخولو سیستم شتون لری چې دغه تودوخه د داخلي سوزېدو (احتراق) په اثر د پستون د دریمې عملیې پواسطه رامنځته کېږي. بناءً د تودوخې د درجې له غیر نورمال لوړېدو څخه د مخنیوي او د انجنونو په داخل کې د ګازکیت له سوزېدوڅخه د مخنیوی لپاره د یخولو اساسی سیستم ضروری دی.

د نقلیه وسیلې د یخولو په سیستم کې هغه پُرزې چې فعالیت کوي عبارت دي له لیلیتر، د اوبو دخولی پایپ، داوبو خروجی پایپ، پکه، واټرپمپ او په سلنډر هید او سلنډر بلاک کې له موجودو کانالونو څخه.



شکل

**الف:** لیلیتر د اوبو له ذخیرې او یخوونکی څخه عبارت دی چې د انجن په مخ کې موقعیت لري چې اوبه ئې د هغه پکې پواسطه یخېږي چې د لیلیتر شاته موقعیت لری.

د ژمي په موسم کې په لیلیتر کې دعادي اوبو په ځای له هغه اوبو څخه ګټه اخیستل کېږي چې د انتي فریز(ضد یخ) په نوم یادېږي. که استعمال نشي نو د سلنډر د کرک کېدو یا چاودېدو سبب ګرځي.

لیلیتر دوه کانالونه یعنی دخولي اوخرجی سوری لری او همدارنګه د کاک لرونکی دی چې د ضرورت په وخت کې دلیلیتر اوبه ورڅخه تشېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ليليتر

ب: واټر پمپ (سرد کولوشن):

واټر پمپ هم د یخوونکي سیستم له مهمې پرزې څخه دی چې د لیلیتر یخې اوبه په فشار سره ماشین ته رسوي او د ماشین ګرمې اوبه بیرته لیلیتر ته انتقالوي

د واټر پمپ شکل



## د ډیزلي او پطرولی ماشینونو ترمنځ توپیر

ځیني پُرزې چې په ډیزلي ماشینونو کې وي په پطرولي ماشینونو کې نه وی او ځیني پرزې چې په پطرولي کې وي په ډیزلی کې نه وي.

هغه پُرزې چې په پطرولي کې وي عبارت دی له ویکم پطرول، برقی فارسنګونه، جرقه ورکونکی پلکونه، د پلکونو وایرینګ، کاربېټراو دلکو څخه.

هغه پُرزې چې په ډیزلی کې دي عبارت دي له ډیزل پمپ، ساده فارسنګونه، فلنجر، کانچه او د ګرم کن پلکونو څخه.

## پوولسم لوست

۱- د موټرو د انجن تشریح.

۲- د تولو روغنیاتو د استعمال د ځایونو ښودنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د سویچ بورډ د سویچونو پېژندنه.
۴- د امپیرونو پېژندنه او د امپیر د اشارې تشریح.
۵- د موټر د یخوالی د سیستم ښودنه.
۶- د فیوزونو ښودنه.
۷- د ټولو څراغونو د روښانه کولو د طریقو ښودنه.
۸- دموټر د جک ورکولو د ځای ښودنه او طریقه.
۹- د موټر د ټایر بدلولو د طریقې ښودنه.
۱۰ - د کمربند، ډالې، بانټ او دځوکیود قیدونو د طریقو ښودنه.

## تخنیکی پوښتنې

۱- پوښتنه:- د ماشین له چالانولو څخه مخکې د یو موټر چلوونکی مسئولیت څه دی؟
۲- پوښتنه:- له حرکت نه مخکې د یو موټر چلوونکی مسئولیت څه دی؟
۳- پوښتنه:- د موټر د څو مهمو برخو نومونه واخلی؟
۴- پوښتنه: فریم او کابین د موټر کومې برخې ته وائي؟
۵- پوښتنه:- ماشین په څو ډوله ده؟
۶- پوښتنه:- ماشین له څو غټو پُرزو څخه جوړ دی نومونه ئې واخلی؟
۷- پوښتنه: کرنشافت د ماشین په کومه برخه کې ځای لري او د ماشین کومو پُرزو ته حرکت ورکوي؟
۸- پوښتنه:- ماشین څو ځلی بور کېدای شي او د کومو علتونوپه سبب په بور راځي؟
۹- پوښتنه:- په یوماشین کې څو عملیې (کارونه)اجرا کیږي؟
۱۰- پوښتنه:- په یو پشتم کې څو ډوله رینګونه دي؟
۱۱- پوښتنه:- ماشین د کومې پُرزې له خرابېدو سره په بخار راځي؟
۱۲- پوښتنه:- رینګونه په کومو علتونو خرابیږي؟
۱۳- پوښتنه:- ګاز کیټ څه دی او د ماشین په کوم ځای کې موقعیت لري او که چیرې ګازکیټ وسوزي ډرېور څنګه پوهېدای شي؟
۱۴- پوښتنه:- د ماشین د تودوخې(حرارت) نورمال درجه څنګه معلومیږي؟
۱۵- پوښتنه:- که چیرې اوبه او مبلائل سره یوځای شی ډرېور څنګه پوهیږي؟
۱۶- پوښتنه:- ماشین ته د مبلائل د نه رسېدو په صورت کې څه عوارض پیښیږي – او چلوونکی به څنګه پوه شي چې په ماشین کې د مبلائل جریان قطع دی؟
۱۷- پوښتنه:- د موټر مبلائیل باید څومره وخت وروسته تبدیل کړل شي؟
۱۸- پوښتنه:- د هوا د فلتر وظیفه څه ده او څومره وخت وروسته باید پاک کړل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹- پوښتنه:- که په ډیزلی ماشین کې تیل ونه رسېږي چلوونکی څنګه پوهېدای شي؟

۲۰- پوښتنه:- د فارسنګ وظیفه څه ده؟

۲۱- پوښتنه:- پطرولي ماشین چې سلف کوي او نه چالانېږي کوم ځایونه ئې باید وکتل شي؟

۲۲- پوښتنه:- ویکم پطرول د موټر په کوم ځای کې لرېدلی وي؟

۲۳- پوښتنه:- دبطری وظیفه څه ده او څو قطبونه لري؟

۲۴- پوښتنه:- د بطری تېزاب په کومو موسمو نو کې بدلېږي؟

۲۵- پوښتنه:- د سلف وظیفه څه دی اوپه کوم وخت کې خرابېږي؟

۲۶- پوښتنه:د داینمو وظیفه څه دی او که داینمو بطری ته برق ورنکړي په امپیر بکسه کې د څه دول اشاره روښانه کېږي؟

۲۷- پوښتنه:- دلکو څه ته وائي او د دلکو د عوارض سبب څه دی؟

۲۸- پوښتنه:- د کلچ سیستم په کوم ځای کې وی که چېرې د کلچ سیستم ضعیف شی نو چلوونکی ئې په کوموتاثیراتو پوهېږي؟

۲۹- پوښتنه:- دګیر بکس وظیفه څه ده او په ساده ګیر بکسونو کې د کوم غوړنه ګټه اخیستل کېږي؟

۳۰- پوښتنه:- نیورسل د موټر کومه پرزه ده؟

۳۱- پوښتنه:- په عمومی دول د بریک سیستم په څو برخو ویشل شوی؟

۳۲- پوښتنه:- د بریک په سیستم کې کومې پرزې کار کوي د هر یو نوم واخلی؟

۳۳- پوښتنه:- د مبلائل ځانګړتیاوې څه دي؟

۳۴- پوښتنه:- سیائیل د موټر په کومو پُرزو کې کارول کېږي او سیائیل د نورو رغنیاتو په نسبت څه ځانګړتیاوې لري؟

۳۵- پوښتنه:- هایدرلیک په څه کې کارول کېږي؟

۳۶- پوښتنه:- ویکم د موټرپه کومو پرزو کې کارول کېږي؟

۳۷- پوښتنه:- د موټر د یخوالي په سیستم کې کومې پرزې فعالیت کوي؟

۳۸- پوښتنه:- په ژمي کې د عادي اوبو په ځای څه کارول کېږي؟

۳۹- پوښتنه:- د پطرولي او ډیزلي ماشینونو تر منځ څه توپیر وی؟

۴۰- پوښتنه:- کلچ په کومو حالاتو کې سوزي؟

## ترافیکی څانګه (برخه)

### د ترافیکو پېژندنه:

**تعریف:** ترافیک له دوه کلمو څخه اخیستل شوې چې ترا د (تګ) په معنیٰ او فیک د (راتګ) په معنیٰ ده. او په عامه اصطلاح کې د هر دول وسایطو، حیواناتو او انسانانو تګ او راتګ ته ترافیک ویل کېږي.

**ترافیک په درې دوله دي.**

(c) ketab...om: The Digital Library



۱- ځمکني ترافیک ۲- هوائي ترافیک ۳- بحري ترافیک.

## ځمکني ترافیک

الف: د واټ د مخ ترافیک

ب: د وسپنې لیکه (د رېل ګاډي پټلی)

### د واټ د مخ ترافیک

د واټ د مخ ترافیک په څلورو شیانو باندې تنظیمیږي.

۱- د ترافیکو پولیس ۲- د ترافیکو اشارې (څراغونه) ۳- د ترافیکو نښې

۴- د ښې اوکیڼ قاعده

۱- د ترافیکو پولیس



۲- د ترافیکو اشارې



۳- د ترافیکو نښې



۴ د ښي اوکيڼ قاعده



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ترافیکو پولیس

د ترافیکو پولیس هغه کس ته ویل کېږي چې د ترافیکو د ریاست لخوا په ځانګړو جامو او ځانګړودندو د واټ پر مخ دنده سر ته رسوي

الف: د ترافیکو کنټرول.

ب: د ترافیکو تنظیمول:

ج: د ترافیکو پاملرنه:

د ترافیکو پولیس په ۵ حالتونو کې کولی شي چې ډرېور ( چلوونکی) ودروي.

۱- د ترافیکو د کنترول په حالت کې ۲- هغه مهال چې چلوونکی د نشې په حالت کې وي

۳- د تخنیکي ستونزې په حالت کې ۴- د خوبولی په حالت کې ۵- له خولی نه پرته د موټر سایکل چلولو په حالت کې.

### په ترافیکی واټ کې د تګ اساسي قاعدې:

د تګ اساسی قاعدې څلور دي.

الف: د نورو خلکو نه زیانمنول.

ب: د خلکو د حرکت مانع نه ګرځېدل.

ج: له خطر سره د نورو خلکو نه مخ کول.

د: د لومړي توب حق مراعت کول.





(c) ketabton.com: The Digital Library



### په ترافیکو کې اړوند کسان

په ترافیکو کې اړوند هغه کسان دی چې پیاده او یا په وسیلې سره د واټ په مخ ګرځي

### د ترافیکو ځانګړی امتیاز:

د ترافیکو ځانګړی امتیاز له هغه الارم (ځانګړی هارن) څخه دئ چې په ځینو وسیلو لکه امبولانس، اطفائیه، دخزانې انتقالوونکو وسیلو او د پیښو(حوادثو) ضد وسیلو کې نصب کیږي.

یو چلوونکی کولی شي چې دخپلې شخصي وسیلې د استعمال پر مهال په درې حالاتو کې ځانګړی امتیاز ترلاسه کړي.

۱- ډاکترته یا روغتون ته د ناروغ د انتقال پر مهال.

۲- له پولیسو سره د مرستې پر مهال.

۳- د خراب موټر د کشولو پر مهال.

پدې حالت کې باید له ډیم څراغونو سره یو ځای دخپل موټر څلور زیړ رنګه څراغونه هم روښانه کړي.

او دښاروالی وسایط کولی شي چې له ځانګړي امتیاز څخه پرته دواټ له ښی او کیڼې خوا څخه ګټه اخیستلای شي.

### ترافیکي پیښه (حادثه):

عبارت له هغه ټکرونو څخه دی چې د واټ پر مخ رامنځته کیږي او د مالی او ځانی زیان لرونکی وي.

ترافیکی پیښه (حادثه) په درې ډوله ده.

الف- لویه پیښه (حادثه) ب- منځنی پیښه (حادثه) ج- کوچنی پیښه (حادثه)

الف: لویه ترافیکی پیښه(حادثه): هغه پیښې ته ویل کیږي چې ځاني زیان (انسانی مړینه) ولري او یا ئې هم مالی زیان له (۱۰۰۰۰) افغانیو څخه زیات وي.

ب:منځنی پیښه (حادثه) هغه پیښې ته ویل کیږي چې ځانی زیان ئې د هډوکي کسر (ماتوالی) وی او مالی زیان ئې له ۳۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ افغانیو پورې وي.

ج: کوچنی یا وړه پیښه (حادثه) هغه پیښې ته ویل کیږي چې ځانی زیان ئې ډېر کم یا سطحي وي او مالی زیان ئې له یوې نه تر ۳۰۰۰ افغانیو پورې وي

### د پیښې (حادثه) پر مهال د چلوونکی مسئولیت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو چلوونکی د پیښې پر مهال روغ وي، مسئول دی چې ناروغان ژر تر ژره روغتون ته ورسوي. همدارنګه چلوونکی حق نلری چې د پیښې د ځای د تثبیت نه وړاندې د پیښې ځای ته تغیر ورکړي.



## د ترافیکي پیښې تثبیتول( معلومول):

یوه ترافیکی پیښه په ۷ اساساتو(بنسټونو) باندې معلومیږي چې عبارت دي له:

۱- سکیچ ۲- انځورونه ۳- د پیښې د ځای شواهد ۴- نښانې او آثار ۵- مسلکی کسان ۶- منطقی دلیل ۷- له پیښې نه باخبر کسان.

## په ترافیکی واټ کې د سُرعت نیولو اندازه:

په واټ کې سُرعت د واټ کیفیت (څرنګوالی) ته په کتو نیول کیږي، که چیرې په واټ کې فرصت وي نو کولی شو چې سُرعت یکې زیات ونیسو او که چیرې په واټ کې ازدحام یا کندو وکړو پیچومي،ګولاني ځلورلارې څوړی او داسې نور ځایونه وي چې د لیدنې ځای پکې نه وی نو باید سُرعت پکې کم ونیول شي. همداراز د موټر د بار وضعیت، تخنیکی ستونزې او په موټر باندې د چلوونکی حاکمیت هم باید په پام کې ونیول شي.

## په ښاري واټونو کې ټاکل شوی سرُعت:

د ګرندیو وسیلو سُرعت په ساعت کې له صفرنه تر ۵۰ کیلومترو پورې ټاکل شوی دی.
د بارووړونکو وسیلو ټاکل شوی سُرعت په ساعت کې له صفر څخه تر ۳۰ کیلومترو پورې دئ.

## په اطرافی واټونو کی ټاکل شوی سُرعت:

په اطرافی واټونو کې د ګرندیو موټرو سُرعت په یو ساعت کې له صفر څخه تر ۹۰ کیلومترو پورې ټاکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باروړونکو وسیلو سُرعت په یو ساعت کې له صفر څخه تر ۷۰ کیلو مترو پورې ټاکل شوی دی.

### عامه واټ:

عامه واټ هغه واټ ته ویل کیږي چې دچا شخصی ملکیت پکې نه وي او همدارنګه یو ډول وسیلې ته ځانګړی شوی نه وي او په مجانی (وړیا) ډول دځمکنی ترافیک لپاره د ګټې اخیستنې وړ وي.

واټ په دوه برخو ویشل کیږي:

الف: ښاري واټ ب: اطرافی واټ.

### د نقلیه وسیلو تر منځ واټن:

د ګرځندیو وسیلو ترمنځ واټن سرعت ته په کتو سره نیول کیږي، څومره چې د موټر سُرعت زیات وي په هماغه اندازه ئې تر منځ واټن هم باید زیات وي او که څومره ئې سُرعت کمیږي نو هغومره ئې تر منځ واټن هم راکمیږي.

د دې لپاره چې که مخکنی موټر دفعتاً بریک ونیسی یا له کوم شی سره ټکر وکړي نو شاتنی موټر وکولی شي چې د هغه له خطر څخه ځان وژغوري.

د باروړونکو وسیلو یاهغه وسیلو ترمنځ چې اوږدوالی ئې له (۷) مترو څخه زیات وي هومره واټن باید ونیول شي چې که یو ګړندی موټر ورڅخه مخکې کیږي که پردې مهال مخکې کیدونکی موټر له کومې راتلونکی وسیلې سره مخ کیږي نو په آسانی سره وکولای شي چې د دوی ترمنځ واټن کې ننوځي او په سلامتیا سره بیرته ووځي.



### سبقت (مخکې کېدل):

له موټر څخه مخکې کېدل باید په کیڼ لور تر سره شي، او له مخکې کېدو نه وړاندې باید چلوونکی د خپل موټر په عقب نما شیشه کې وګوري او دخپل موټر د کیڼې خوا اشاره روښانه کړي تر څو د شاتنی وسیلې چلوونکی د هغه د خط السیر په بدلون باندې پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په لاندې حالاتو او ځایونو کې سبقت( مخکې کېدل) منع دي:

۱- کله چې یو موټر د مخکې کېدوپه حال کې وي نو د بل موټر لپاره مخکې کېدل منع دي.

۲- د موټر له ښی خوانه مخکې کېدل منع دي.

۳- د گرد او غُبار په حالت کې مخکې کېدل منع دي.

۴- په پیچومی (گولائي) کې مخکې کېدل منع دي.

۵- په ځلور لارې کې مخکې کېدل منع دي.

۶- په څوړي کې مخکې کېدل منع دي.

۷- په کم (لږ) سور واټونو کې(هغه واټونو کې چې بر یا سور) ئې کم وي مخکې کېدل منع دي.

۸- په تونل کې مخکې کېدل منع دي.

۹- په نه قطع کوونکو کرښوکې مخکې کېدل منع دي.

۱۰- په هغه ځایونو کې چې د مخکې کېدو د منع علایم(نښې) لگېدلي وي

(c) ket...l.com: The Digital Library





په ښی لاس باندې مخکې کېدل یوازې هغه مهال جواز لري چې مخکنی موټر د خپلې کیڼې خوا اشاره روښانه کړې وي او کیڼې خواته ګرځي

**په ترافیکو کې خاص وضعیت (ځانګړي حالت):**

په ترافیکو کې خاص وضعیت د ترافیکو په حالاتو کې او یا د ترافیکو په تأسیساتو کې د بدلون له راتللو څخه عبارت دی، چې په داسې حالت کې د چلوونکی مسئولیت له نورو واټونو څخه ګټه اخیستل او یا له پولیسو نه هدایت غوښتل دي، او دپولیسو یانورو واټونو د نه شتون په صورت کې د واټ په ښي اړخ کې ودرېدل دي.

**درېدل (پارکینګ):**

درېدل په درې ډوله دي:

الف: عمودي ب: موازی ج: مایل

ودرېدل د موقعیت له لحاظه باید وشي چې د نورو خلکو د حرکت مانع ونه ګرځي.

په تونل، څلورلارې، پیچومي، د کوڅې په سر کې، د چا د موټر تر شا، د پیاده تلونکو په دهلیز او په هغه ځای کې چې د درېدو د منع نښه لګول شوې وي ودرېدل منع دي




**په موټر کې د تخنیکي ستونزې د رامنځته کېدو پر مهال د چلوونکی مسئولیت:**

کله چې یوه نقلیه وسیل د تګ پر مهال له کومې تخنیکي ستونزې سره مخ شي نو باید چې د ترافیکو د جریان بندېدل د امکان تر حده له منځه یوړل شي او یا نقلیه وسیله د واټ په ښي اړخ کې ودرول شي تر څو چې د خلکو د حرکت مانع ونه ګرځي او د خراب شوي موټر نه مخکې د اخطاریه نښه کېښودل شي او یا هم څلور واړه ژېړرنګه څراغونه روښانه کړل شي تر څوچې نورخلک د خراب شوي موټر څخه ځان بچ کړي او په احتیاط سره تېر شي.

د اخطاریه نښې د نه شتون په صورت باید له ډېرو او نور شیانو څخه کار واخیستل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## په نقلیه وسیلو کې د انتقالی مالونو بارول:

په نقلیه وسیلو کې له هغه ټاکلی مجموعي حد څخه چې په جواز سیر کې معلوم شوي دي زیات بارول منع دي. او یو چلوونکی نشی کولای چې د باډی له چت او یا دګلګیر داندازې څخه بهر مال پکې بارکړي همدارنګه هغه مال چې دقانون پرضد (قاچاق) وی چلوونکی نشی کولای چې په خپل موټر کې ئې بار او انتقال کړي.

یو چلوونکی مسئول دي چې سمه او کلکه بارګیري وکړي تر څو د غورځېدو خطر پکې نه وي او نور خلک له خطر سره مخ نکړي.

## دغیر فعال موټر کشول:

د غیر فعال موټر کشول باید د ځنځیر، کېبل اویا اوسپنیزې میلې پواسطه سرته ورسول شي چې له دوه مترو څخه کم او له (۶)شپږو مترو څخه زیات نه وي او کشوونکی او راکشېدونکی دواړه باید لیساینس ولري.

همداراز باید د کشولو پر مهال د ترافیکو اصول او قواعد په پام کې ونیسي.

د کشولو پر مهال باید د کشوونکی موټر ډرېورپه عقب نما شیشه کې د شاتنی موټر وضعیت ته پاملرنه وکړي.

د هغه وسیلو په کشولو کې چې مجموعی وزن ئې له ۵ ټنه څخه زیات او یا د ډېرو اکسلونو لرونکی وي باید له اوسپنې میلې (بکسل) څخه کټه واخیستل شي.

له یو موټر څخه زیات او یا هغه وسیلو چې اوږدوالی ئې له (۲۴) مترو څخه زیات وي کشول منع دي.

د کشولو پر مهال ډیم څراغونه او ډبل اشارې روښانه کړی.

په اطرافی سړکونو کې د کشولو پر مهال د موټر سُرعت باید په یو ساعت کې له ۵۰کیلومترو څخه زیات نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**هارن:**

له هارن څخه په هغه صورت کې ګټه اخیستلای شو چې له هارن پرته له خطر څخه خلاصون ممکن نه وي. په ځانګړې توګه په هغه ځایونو کې د هارن کول منع دی چې د هارن د منع لوحه پکې نصب وي
همدارنګه د روغتون، ښوونځۍ په مخکې او ځان ته دیو کس دتوجه درا ارولو په لپاره او د منزل اویا ګراج د دروازې د خلاصولو په موخه د هارن کول منع دي.
چلوونکی نشی کولای چې د جسمانی زیان ، روانی تکلیف، نشې پر مهال او کومې بلې ناروغی په حالت کې، د ستړیا او کم خوبی په حالت کې، د موټر سایکل د ذرې ضد خولۍ د نه درلودلو په صورت کې، او همداراز دلایسنس د درجې په ضد،نه شی کولای چې موټر وچلوي.

## ترافیکی پوښتنې

۱- پوښتنه:- ترافیک تعریف کړی او ترافیک په څو ډوله دي؟
۲- پوښتنه:- ځمکني ترافیک په څو ډوله دي؟
۳- پوښتنه:- د واټ د مخ ترافیک په څو شیانو تنظیمیږي؟
۴- پوښتنه:- د ترافیکو پولیس کوم کس ته ویل کیږي؟
۵- پوښتنه:- په ترافیکی واټ کې د اساسی تګ قاعده څه ده؟
۶- پوښتنه:- په ترافیکو کې اړوند کوم کسان دي؟
۷- پوښتنه:- د ترافیکو ځانګړی امتیاز څه دی او کومو وسیلوته ورکول کیږي؟
۸- پوښتنه:- یو شخصی موټر چلوونکی په کومو وختونو کې د ځانګړي امتیا زخاوند کیدای شي؟
۹- پوښتنه:- هغه کوم وسایط دی چې ځانګړي امتیاز نلري او کولای شي د واټ له ښې او کیڼ خوا څخه ګټه واخلي؟
۱۰- پوښتنه:- ترافیکی پیښه کومې پیښې ته ویل کیږي؟ او ترافیکي پیښه په څو ډوله ده؟
۱۱- پوښتنه:- د ترافیکی پیښې پر مهال د چلوونکی مسئولیت څه دی؟
۱۲- پوښتنه:- یوه ترافیکی پیښه په څو شیانو تثبیت کیږي؟
۱۳- پوښتنه:- په ترافیکی واټ کې سرعت په څه شي تنظیمیږي؟
۱۴- پوښتنه:- په ښاري واټونو کې د ګړندیو وسیلوسُرعت باید په کومه اندازه ونیول شي؟
۱۵- پوښتنه:- په اطرفی واټونو کې د ګړندیو وسیلو سرعت باید په کومه اندازه کې ونیول شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- پوښتنه:- عامه واټ کوم واټ ته ویل کېږي؟

۱۷- پوښتنه:- واټ په څو برخو وېشل شوی دی؟

۱۸- پوښتنه:- دګرندیو وسیلو تر منځ باید څومره واټن وي

۱۹- پوښتنه:- د بار وړونکو یا هغه وسیلو تر منځ چې اوږدوالی ئې له (۷) مترو څخه زیات وي باید څومره واټن ونیول شي؟

۲۰- پوښتنه:- له کوم لوري نه باید مخکې کېدل وشي او په کومو ځایونو کې مخکې کېدل منع دي؟

۲۱- پوښتنه:- کوم وخت کې کولای شو چې دیوې نقلیه وسیلې له ښی خوانه مخکې شو؟

۲۲ - پوښتنه:- په ترافیکو کې خاص وضعیت (ځانګړی حالت) څه دی؟

۲۳ - پوښتنه:- درېدل (پارکینګ) په څو ډوله کېدای شي؟

۲۴ - پوښتنه:- په موټر کې د تخنیکي ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې د چلوونکی مسئولیت څه دي؟

۲۵- پوښتنه:- په نقلیه وسیلوکې کوم ډول مالونه نشو کولای چې انتقال کړو؟

۲۶- پوښتنه:- د غیر فعال موټر د کشولو بوکسل یا رسی باید په کومه اندازه وي؟

۲۷- پوښتنه:- کوم وسایط باید د اوسپنیزې میلې (بوکسل) پواسطه کش کړل شي؟

۲۸- پوښتنه:- په کومو ځایونو کې هارن کول منع دي؟

۲۹- پوښتنه:- له ښي څخه چپ قاعده په کوم وخت کې د اعتبار وړ ده؟

۳۰- پوښتنه:- ترافیکی نښې په څو ډوله دي نومونه ئې واخلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



3-4 3-5 3-6



د موټرسایکل ننوتل منع — منع دخول برای موتر سایکل

دبایسکل ننوتل منع — منع دخول برای بایسکل

د ټراکټور ننوتل منع — منع دخول برای تراکتور

3-7 3-8 3-9



د ګاډی ننوتل منع — منع دخول برای گادی

د ټریلرننوتل منع — منع دخول برای موتر های تریلر دار

د لاس ګاډی ننوتل منع — منع دخول برای کراچي های دستی

3-10 3-11 3-12




ټول وسایط له ننوتلو منع چې په بادی کې ۷ ټنه بار وی — منع دخول برای وسایط نقلیه باربردار که دارای وزن مجموعی مجاز ۷ تن و بیشتر از آن

ټول وسایط له ننوتل منع چې مجموعی وزن یې ۷ ټنه وی — منع دخول برای وسایط نقلیه باربری که دارای وزن مجموعی ۷ تن وبیشتر از آن

ټول وسایط له ننوتل منع چې په اکسل یې ۵ ټنه وزن وی — منع دخول برای وسایط نقلیه با وزن مجاز بالای اکسل ۵ تن و بیشتر از آن

3-13 3-14 3-15




ټول وسایط له چې سور یې دوه نیم متره وی ننوتل منع — منع دخول برای عراده جات که با عرض بیش از (دونیم متر)

ټول وسایط له چې جګوالی یې دری نیم متره وی ننوتل منع — منع دخول برای عراده جات که با ارتفا بیش از (سه ونیم متر)

کوم وسایط چې اوږدوالی یې ۱۰ متره وی ننوتل منع — منع دخول برای عراده جات با طول بیش از (ده متر) باشد

3-16 3-17 3-18



ښی خواته تاویدل منع — منع دور خوردن به طرف راست

چپ خواته تاویدل منع — منع دور خوردن به طرف چپ

د U پشان تاویدل منع — منع دور خوردن بشکل ( U )

3-19 3-20 3-21



مخکې کیدل منع ټولو وسایطو ته — منع سبقت برای تمام انواع وسایط نقلیه

د مخکې کیدو د منع خلاصون — ختم منع سبقت

د بار وړونکو وسایط مخکې کیدل منع — منع سبقت برای موتر های لاری

3-22 3-23 3-24




د بار وړونکو وسایطو د مخکې کیدو د منع خلاصون — ختم منع سقت برای موتر های لاری

د سرعت تحدید ځک سرعت تر ۵۰ کیلومتره په ساعت کی — تحدید سرعت (حد اعظمی سرعت پنجاه کیلو متر في ساعت)

د تحدید سرعت خلاصون — ختم تحدید سرعت

3-25 3-26 3-27



د هارن منع — منع هارن

دریدل منع — منع توقف

د پارکنګ منع — منع پارکنگ

3-28 3-29 3-30




د ترافیک حدود خلاصون — ختم محدودیت ترافیک

د پارکنګ منع په ټاکل شوی وخت — منع پارکنگ در ساحه ووقت تعین شده

د ټاکل شوی وخت دننه پارکنګ کولو خلاصون — ختم منع پارکنگ در ساحه ووقت تعین شده

3-31 3-32




دریدل ـــ د ګمرک ځای — توقف - محل گمرکي

دریدل ـــ د تیریدود حق ځای — توقف - موضع حق العبور

## ۴ : د هدایت ورکولو (امرکوونکی ) نښې

### ۴: علایم هدایت دهنده (امریه)

4-1 4-2 4-3



مخامخ لور ته تګ — حرکت بسمت روبرو

ښی خواته تګ — سمت حرکت بطرف راست

چپ خواته تګ — سمت حرکت بطرف چپ

4-4 4-5 4-6



حتمی ښی خواته تاویدل — سمت دور حوردن بطرف راست (صرف بطرف راست دور خورده شود)

حتمی چپ خواته تاویدل — سمت دور خوردن بطرف چپ (صرف بطرف چپ دور خورده شود)

دښی او مخامخ لور ته تګ — سمت حرکت بطرف راست وروبرو

4-7 4-8 4-9



د چپ او مخامخ لور ته تګ — سمت حرکت بطرف چپ وروبرو

د ښی او چپ لورته تګ — سمت حرکت بطرف چپ وراست

د ښي خواته تیریدل — از راست بگذرید

4-10 4-11 4-12



د چپ خوانه تیریدل — از چپ بگذرید

دایروی ترافیک — ترافیک دایروی (چرخ ترافیکي)

د بایسکل د تلو لار — سرک بایسکل رو

(c) ketabton.com: The Digital Library



6-7 | 6-8 | 6-9




6-7: د واټ په اوږدو کې په موازي ډول پارکینګ / پارکینگ بصورت موازی به امتداد جاده

6-8: په موازي ډول پارکینګ / پارکینگ بصورت موازی

6-9: د 8:00 نه تر 17.00 بجو پورې درېدل منع دی / منع توقف در وقت منع از ساعت ۸:۰۰ الی ۱۷:۰۰

6-10 | 6-11 | 6-12



6-10: د بار وړونکو موټرو لپاره پارکینګ منع دی / منع پارکینگ (برای موتر های لاری)

6-11: د ګرځندو موټرو لپاره پارکینګ منع دی / منع پارکینگ (برای موتر های تیز رفتار)

6-12: د موټرسایکلو لپاره پارکینګ منع دی / منع پارکینگ (برای موتر سایکل)

6-13 | 6-14




6-13: پاملرنه(د سل مترو په اوږدوالي کې د خطر ځای) / احتیاط (موضع خطر به فاصله صد متر امتداد دارد)

6-14: پاملرنه(د ۱۰۰ مترو وروسته سړک کم سوری کېږي) / احتیاط بعد از طی صد متر جاده دفعتا کم عرض میشود

## ۷ : ترافیکي تاسیسات

## ۷: تاسیسا ت ترافیکی

7-1 | 7-1 | 7-2



7-1: ښی لوری ته د حرکت کولو لارښوونه / رهنمای جهت حرکت به طرف راست

7-1: چپ لوری ته د حرکت کولو لارښوونه / رهنمای جهت حرکت به طرف چپ

7-2: ښی او چپ لوری ته د حرکت کولو لارښوونه / رهنمایی جهت حرکت به طرف راست وچپ

7-3 | 7-4 | 7-5



7-3: دوه خواوو (ښی او چپ لور ته) د حرکت کولو لارښوونه / رهنمایی جهت حرکت به دو جناح (راست و چپ)

7-4: بندوونکي وسیله په افقي ډول) / وسیله انسدادیه (تخته ها ویا چوبهای انسدادیه به شکل افقي)

7-5: بندوونکي وسیله په عمودی ډول) / وسیله انسدادیه (تخته ها و یا چوبهای انسدادیه به شکل عمودی)

7-6 | 7-7 | 7-8 | 7-9



7-6: بندوونکې وسیله په مخروطي ډول / وسیله انسدادیه رهنمایی (مخروطي شکل)

7-7: ګرځنده بندوونکې وسیله / تخته های انسدادیه سیار

7-8: [illegible]

7-9: [illegible]

## د ترافیکو برېښنايي څراغونه

## سگنال های برقي ترافیکی

7-10 الف | 7-10 ب | 7-10 ج | 7-10 ح



الف: سور څراغ / چراغ سرخ

ب: سور او ژېړ څراغ / چراغ سرخ وزرد

ج: شین څراغ / چراغ سبز

ح: ژېړ څراغ / چراغ زرد

7-10 د | 7-10 ز | 7-10 و | 7-10 هـ



د: په شین څراغ کې غشی سور څراغ سره / تیر سبز همراه با چراغ سرخ

ز: په شین څراغ کې غشی د حرکت د لور ښوونکی / تیر سبز نشان دهنده جهت حرکت

و: د پیاده تلونکو سور څراغ / چراغ سرخ پیاده رو

هـ: د پیاده تلونکو شین څراغ / چراغ سبز پیاده رو

## ۸ : د واټ پر مخ لیکی

## ۸ : خطوط روی جاده

8-1 | 8-2 | 8-3



8-1: نه قطع کوونکي سپینه لیکه / خط سفید غیر متعاطع

8-2: دوه نه قطع کوونکي سپینې لیکې / خط سفید غیر متقاطع دو گانه

8-3: قطعه کوونکي سپینه لیکه / خطوط سفید متقاطع

8-4 | 8-5 | 8-6



8-4: قطعه کوونکي او نه قطعه کوونکي سپینې لیکې د واټ په اوږدو / خط سفید متقاطع و غیر متقاطع بصورت موازی

8-5: د څلورلارې په سرکې د دریدلو لیکه د سور څراغ لپاره / خط سفید توقف در دهنه چهاراهي به چراغ سرخ

8-6: د پیاده تلونکو دهلیز / د هلیز پیاده رو

(c) ketabton.com: The Digital Library



8-6



د پیاده تلونکو دوه طرفه دهلیز

د هلیز پیاده رو دوگانه

8-7



په سپینو لیکو رسم شوی جزیره

جزیره ترسیم شده توسط خطوط سفید

8-8



د حرکت د لوری ښوودونکی غشی

تیر های نشان دهنده سمت حرکت

8-9



د وسایطو د پارکینګ ځای لیکی په عمو دی ډول

خطوط محل پارکنگ وسایط نقلیه به عمودی

8-10



د وسایطو د پارکینګ ځای لیکی په مایل ډول

خطوط محل پارکنگ وسایط نقلیه به شکل مایل

8-11



د وسایطو د پارکینګ ځای لیکی په موازی ډول

خطوط محل پارکنگ وسایط نقلیه به شکل موازی با جاده

8-12



د بس د تم ځای لیکه

ایستگاه بس های شهر

8-13



رسم شوی لیکی په مایل ډول د تونل دیوال پایی هوایی پلونو په څنډو کی

خطوط ترسیم شده بصورت مایل بالای پایه ها، دیوار و کناره های تونل ها پل ها و غیره

8-14



تور او سپین لیکي د ترافیکي پایو کی

خطوط سیا و سفید به روی پایه ها

8-15



تور او سپین لیکي د واټ د اندازه شوی تیکی پر مخ او د ترافیکی جزیری په اوږدوالی څنډو کی

خطوط سیا و سفید بروی سنگ های حدودی کنار جاده و امتداد کنار جزایر ترافیک

د زیر چراغ معنی
د پولیس ترافیک دلاس اوچتوالی



د سور چراغ معنی د پولیس ترافیک
د لاس مخ او سټ



د شین چراغ معنی
د پولیس ترافیک د لاس په اړدوالی
خوا ته

# د افغانستان دښارونو کیلو متري واټن جدول

| | کابل | لوګر | ننګرهار | کنړها | لغمان | کاپیسا | پروان | بدخشان | تخار | کندز | بغلان | سمنګان | بلخ | جوزجان | فاریاب | بادغیس | هرات | غور | بامیان | وردګ | پکتیا | غزنی | ارزګان | فراه | نیمروز | هلمند | کندهار |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوګر | ۶۱ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ننګرهار | ۱۴۷ | ۱۹۴ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| کنړها | ۲۰۷ | ۲۸۸ | ۹۴ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| لغمان | ۱۳۹ | ۲۱۸ | ۴۴ | ۱۲۷ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| کاپیسا | | ۱۴۳ | ۱۶۶ | ۲۶۰ | ۱۹۰ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| پروان | ۶۴ | ۱۲۱ | ۲۱۵ | ۲۸۲ | ۲۳۹ | ۲۲ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| بدخشان | | ۶۶۹ | ۷۶۳ | ۸۳۰ | ۷۸۷ | ۵۷۰ | ۵۴۸ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| تخار | ۴۱۲ | ۵۰۶ | ۶۰۰ | ۶۹۴ | ۶۲۴ | ۴۰۷ | ۳۶۱ | ۱۲۸ | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| کندز | ۳۳۷ | ۴۰۸ | ۵۰۲ | ۵۶۹ | ۵۲۶ | ۳۰۹ | ۲۶۳ | ۸۲۰ | ۹۸ | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| بغلان | ۲۶۲ | ۳۳۵ | ۴۲۹ | ۴۶۶ | ۴۵۳ | ۲۳۶ | ۱۹۰ | ۳۵۳ | ۱۷۱ | ۷۳ | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| سمنګان | ۳۱۳ | ۳۹۵ | ۴۸۹ | ۵۴۶ | ۵۱۳ | ۲۹۶ | ۲۷۴ | ۴۳۷ | ۲۵۵ | ۱۵۷ | ۸۴ | | | | | | | | | | | | | | | | |
| بلخ | ۴۳۷ | ۵۱۷ | ۶۱۱ | ۶۷۸ | ۶۳۵ | ۴۱۸ | ۳۹۶ | ۴۵۵ | ۲۷۳ | ۱۷۵ | ۲۰۶ | ۴۲۲ | | | | | | | | | | | | | | | |
| جوزجان | ۵۸۷ | ۶۶۴ | ۷۵۸ | ۸۲۵ | ۷۸۲ | ۵۶۵ | ۵۴۳ | ۶۰۲ | ۴۲۰ | ۳۲۲ | ۳۵۳ | ۲۶۹ | ۱۴۷ | | | | | | | | | | | | | | |
| فاریاب | ۸۲۵ | ۸۷۵ | ۹۶۹ | ۱۰۳۶ | ۹۹۳ | ۷۷۶ | ۷۵۴ | ۸۱۳ | ۶۵۱ | ۵۳۳ | ۵۶۴ | ۴۸۰ | ۳۵۸ | ۲۱۱ | | | | | | | | | | | | | |
| بادغیس | ۳۳۷ | ۱۱۷۲ | ۱۲۶۶ | ۱۳۳۳ | ۱۲۹۰ | ۱۰۷۳ | ۱۰۵۱ | ۱۱۱۰ | ۹۲۸ | ۸۳۰ | ۸۶۱ | ۷۷۷ | ۶۵۵ | ۵۰۸ | ۲۹۷ | | | | | | | | | | | | |
| هرات | ۱۰۵۷ | | ۱۱۹۶ | ۱۲۹۰ | ۱۲۲۰ | ۱۱۴۵ | ۱۱۲۳ | ۱۲۶۴ | ۱۸۲۰ | ۹۰۹ | ۱۰۲۰ | ۹۳۶ | ۸۱۴ | ۶۶۷ | ۴۵۶ | ۱۵۹ | | | | | | | | | | | |
| غور | ۹۷۶ | ۵۳۱ | ۶۲۵ | ۷۱۹ | ۶۴۹ | ۵۷۴ | ۵۵۲ | ۱۱۰۰ | ۹۱۳ | ۷۶۸ | ۷۶۶ | ۸۲۶ | ۱۱۸۶ | ۱۰۳۹ | ۸۲۸ | ۵۳۱ | ۳۷۲ | | | | | | | | | | |
| بامیان | ۲۰۴ | ۲۸۱ | ۳۷۵ | ۹۶۹ | ۳۹۹ | ۱۸۲ | ۱۶۰ | ۷۰۸ | ۵۶۱ | ۴۲۳ | ۳۱۰ | ۴۳۴ | ۵۵۶ | ۷۰۳ | ۸۰۹ | ۹۴۵ | ۷۸۶ | ۳۹۶ | | | | | | | | | |
| وردګ | ۳۴ | ۹۰ | ۱۸۴ | ۲۷۸ | ۲۰۸ | ۱۳۳ | ۱۱۱ | ۶۵۹ | ۵۱۲ | ۴۴۸ | ۳۲۵ | ۳۸۵ | ۵۰۷ | ۶۵۴ | ۸۶۵ | ۱۰۲۶ | ۸۷۲ | ۴۷۶ | ۸۱ | | | | | | | | |
| پکتیا | ۱۲۲ | ۷۲ | ۲۶۶ | ۳۶۰ | ۲۹۰ | ۲۱۵ | ۱۹۳ | ۷۴۱ | ۵۷۸ | ۴۵۶ | ۵۰۷ | ۴۶۷ | ۵۸۹ | ۷۳۶ | ۹۴۷ | ۱۲۴۴ | ۱۱۷۴ | ۶۰۳ | ۳۵۳ | ۱۶۲ | | | | | | | |
| غزنی | ۱۴۹ | ۱۸۵ | ۲۷۹ | ۳۷۳ | ۳۰۳ | ۲۲۸ | ۲۰۶ | ۷۸۹ | ۵۹۱ | ۴۹۳ | ۴۲۰ | ۴۸۰ | ۶۰۲ | ۷۴۹ | ۹۶۰ | ۱۰۷۶ | ۹۱۷ | ۵۷۰ | ۲۱۶ | ۱۲۵ | ۱۹۰ | | | | | | |
| ارزګان | ۶۶۹ | ۴۵۵ | ۵۴۹ | ۶۴۳ | ۵۷۳ | ۴۹۸ | ۴۷۶ | ۱۰۵۹ | ۸۶۱ | ۷۶۳ | ۶۹۰ | ۷۵۰ | ۸۷۲ | ۱۰۱۹ | ۱۲۳۴ | ۱۱۰۲ | ۸۰۸ | ۸۴۱ | ۴۸۶ | ۳۷۵ | ۳۶۰ | ۲۷۰ | | | | | |
| فراه | ۸۷۸ | ۸۰۹ | ۹۰۳ | ۹۹۷ | ۹۲۷ | ۸۵۲ | ۸۳۰ | ۱۵۱۳ | ۱۲۲۴ | ۱۱۱۷ | ۱۱۰۴ | ۱۰۸۸ | ۹۴۱ | ۷۳۰ | ۵۱۹ | ۴۳۳ | ۲۷۴ | ۶۴۶ | ۷۹۰ | ۸۹۸ | ۸۸۳ | ۷۹۳ | ۶۸۴ | | | | |
| نیمروز | ۹۳۴ | ۸۸۵ | ۹۷۹ | ۱۰۷۳ | ۱۰۰۳ | ۱۱۲ | ۹۰۶ | ۱۴۵۳ | ۱۲۹۱ | ۱۱۹۳ | ۱۱۸۰ | ۱۱۸۰ | ۱۱۰۶ | ۸۹۵ | ۷۸۴ | ۵۹۸ | ۴۳۹ | ۸۱۱ | ۹۵۹ | ۱۰۶۴ | ۱۰۴۸ | ۹۵۸ | ۸۴۹ | ۱۶۵ | | | |
| هلمند | ۶۴۴ | ۷۰۳ | ۷۹۷ | ۸۹۱ | ۸۲۱ | ۷۴۸ | ۷۲۴ | ۱۲۷۲ | ۱۱۰۹ | ۱۰۱۱ | ۹۹۸ | ۸۹۸ | ۱۱۲۰ | ۹۴۹ | ۷۳۸ | ۷۲۷ | ۴۹۳ | ۸۶۵ | ۸۸۴ | ۶۲۳ | ۶۰۸ | ۵۱۸ | ۴۰۹ | ۳۶۹ | ۳۷۶ | | |
| کندهار | ۵۰۵ | ۵۳۵ | ۶۲۹ | ۷۲۳ | ۶۵۳ | ۵۷۸ | ۵۵۶ | ۱۱۰۴ | ۹۴۱ | ۸۴۳ | ۷۵۰ | ۸۳۰ | ۹۵۲ | ۱۱۰۴ | ۹۹۳ | ۸۰۱ | ۵۶۷ | ۹۴۹ | ۷۱۶۱ | ۴۴۰ | ۴۴۰ | ۳۵۰ | ۲۴۱ | ۴۴۳ | ۴۵۰ | ۱۶۸ | |
| زابل | ۳۶۸ | ۴۰۳ | ۴۹۷ | ۵۹۱ | ۵۶۱ | ۴۴ | ۴۲۴ | ۹۷۲ | ۸۱۹ | ۷۱۱ | ۶۹۸ | ۸۲۰ | ۹۶۷ | ۱۱۷۸ | ۹۶۷ | ۹۳۳ | ۶۹۹ | ۱۱۷۱ | | ۴۵۵ | ۳۰۸ | ۲۱۸ | ۳۷۳ | ۵۷۵ | ۵۸۲ | ۳۰۰ | ۱۳۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اخندزاده د موټر چلولو او تخنيکي زده کړې مرکز

تاسیس کال ۱۳۹۵

# اخند زاده د موټر چلولو او تخنيکي زده کړې مرکز

# Akhundzada Driving & Technical Course




[redacted]

- جلال اباد ښار ، پښتونستان واټ ، شیرینډل پلازه
- کابل کارته نو ، دریم سړک
- کابل پنجصد فاميلي څلور لارې

0773177866 - 0780180280 - 0799722255 - 0780949195

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوښتني او ځوابونه د ترافيکي برخي

۱ سوال : ترافيک تعريف کړئ او ترافيک په څو ډوله دي؟

ځواب: ترافيک دوه لاتيني کلمي دي چي (ترا) تګ او (فيک) راتګ ته وايي او ترافيک په دري ډوله دي. الف: ځمکني ب: هوايي ج: بحري

۲ سوال: ځمکني ترافيک په څو ډوله دي؟

ځواب: ځمکني ترافيک دوه ډوله دي. الف واټ په مخ ب: اوسپنيزه کرښه ( د ريل ګاډي پټلی)

۳ سوال: افغانستان څو ډوله ترافيک لري؟

ځواب: افغانستان دوه ډوله ترافيک لري ۱ هوايي ترافيک ۲ ځمکني ترافيک

٤ سوال: ځمکني ترافيک په څو شيانو تنظيمېږي ؟

ځواب: ځمکني ترافيک په څلورو شيانو تنظيمېږي. الف: د ترافيکو پوليس ب: ترافيکي څراغ سګنال ج ترافيکي لوحي د: د ښي پر چپ قاعده.

٥ سوال: په ترافيکو کي کوم کسان اړوند دي؟

ځواب: په ترافيکو کي اړوند هغه کسان دي چي پياده (پښو) يا په وسيلي سره د واټ پر مخ ګرځندويي وي.

٦ سوال: د ترافيکو پوليس چاته ويل کيږي؟

ځواب: د ترافيکو پوليس هغه کس ته ويل کيږي چي د ترافيکو رياست له خوا په ځانګړي جامو او ځانګړو دندو د ترافيکو د تنظيم لپاره د واټ پر مخ په دنده ګمارل شوي وي.

۷ سوال:د ترافيکو پوليس څو دندي لري؟

ځواب: د ترافيکو پوليس دري دندي لري. الف ( د ترافيکو کنترولول) ب( د ترافيکو تنظيمول) ج: ( ترافيکو ته پاملرنه)

۸ سوال: ترافيکي نښي په څو ډوله دي؟

ځواب: د ترافيکي نښي په اته ډوله دي. ۱ اخطاريه نښي ۲ لومړنی حق نښي ۳ د منعي کوونکي نښي ٤ هدايت ورکولو نښي ٥ د لارښووني نښي ٦ اړوندي نښي ۷ د ترافکي تاسيسات او څراغونه ۸ واټ د مخ کرښي.

۹ سوال: د ترافيکي ځانګړي امتياز څه شی ته ويل کيږي او کوم وسايطو ته ورکړل کيږي؟

ځواب: د ترافيکي ځانګړي امتياز عبارت دی دالارم يا ځانګړي هارن اويا ځانګړي اشاري څخه چي په بعضي وسايطوکي نصب وي لکه امبولانس، د پوليسو وسايط، اطفائيه، د حوادثو پرضد وسايطو او د خزاني د انتقالولو وسايط

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| ۱۰ سوال: څه وخت یو موټر چلوونکی د خپل شخصي موټر سره د ترافیکي خانګړي امتیاز خاوند کېداشی؟ |
| ځواب: موټر چلونکی د خپل شخصي موټر سره په دري حالاتو کې د ترافیکو د خانګړي امتیاز خاوند کیداشی چې د موټر څلور ځراغونه باید د ډیم ځراغ سره روښانه کري الف: د ناروغ انتقال یا دوا او داکتر ناروغ ته رسول ب: خراب موټر کش کول. ج: د ترافیکو پولیس او یا پولیس سره مرسته کول. |
| ۱۱ سوال: کوم وسایط خاص امتیاز نه لري، او کولی شي چې د واټ د ښي او چپ خوا نه ګټه واخلي؟ |
| ځواب: هغه وسایط چې خاص امتیاز نه لري هغه د ښاروالی وسایط دي، او کولاي شي د واټ د ښي او چپ خوانه ګټه واخلي. |
| ۱۲ سوال: کوم اشخاص په عامه موټرو کې پورته کېدلی نه شي؟ |
| ځواب: مستري، رنګمال، قصاب ، مثلاً په بس، ټونس او نور... |
| ۱۳ سوال:عامه واټ کوم واټ ته ویل کېږي؟ |
| ځواب:عامه واټ هغه واټ دی چې د چا شخصي ملکیت په کې نه وي او یو ډول وسایطو ته خانګړي شوي نه وي او په وریا ډول د ځمکني ترافیک د استفادي ور وي. |
| ۱٤ سوال: سرعت په واټ کې د څه شي په واسطه نیول کېږي؟ |
| ځواب: سرعت په واټ کې واټ په واسطه نیول کېږي مثلاً که واټ جوړ او پراخه وي سرعت زیات ونیول شي او که واټ خراب او بیروبار وي نو سرعت په کې لږ ونیول شي. |
| ۱۵ سوال: اساسي قاعده د تګ په واټ کې څه دی ؟ |
| ځواب: د موټر چلولو اساسي قاعده د تګ په واټ کې عبآرت دی له الف: د نور خلکو نه زیانمن کول ب: د نورو خلکو مانع نه ګرځیدل ج : نور خلک خطر سره نه مخ کول د: د لومړیتوب حق مراعت کول. |
| ۱٦ سوال: د واټ کرښي په څو ډوله دي ؟ |
| ځواب: د واټ کرښي په دوه ډوله دي ۱ قطع کوونکي کرښي ۲ : نه قطیع کوونکي کرښي |
| ۱۷ سوال: واټ په څو برخو تقسیم کېږي؟ |
| ځواب: واټ په دوه برخو تقسیم کېږي: ۱ ښاري ۲ اطرافي |
| ۱۸ سوال: ترافیکي حادثه ( پیښه) تعریف کړئ او ترافیکي حادثه په څو ډوله دی؟ |
| ځواب: حادثه ( پیښه) عبارت د ترافیکي تکر څخه دي چې د غفلت او بی احتیاطي له وجي د واټ پر مخ رامنځته کیږي چې د ځاني او مالي زیان لرونکي وي او حادثه په دري ډوله ده: ۱ لویه حادثه ۲ درمیانه حادثه ۳ وړه حادثه الف: لویه حادثه هغه حادثي ته ویل کیږي چې ځاني زیان یې د انسان وژل، یا دایمي معلولیت او مالي زیان یې له سل زره(۱۰۰۰۰۰) افغانی نه ډیر وي. ب: درمیانه حادثه هغه حادثي ته ویلی شو چې ځاني زیان کسر د( هډوکي ماتوالی) او مالي زیان یې د ۵۰۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰۰ افغانی وي . ج: وړه حادثه هغه پیښي ته ویلی شو چې ځاني زیان یې ډیر لږ یا سطحي ژوبلتیا او مالي زیان یې تر ۵۰۰۰۰ افغانی وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹ سوال: ترافیکي حادثه د څو شیانو په وسیله کتلی شو؟

خواب: ترافیکي پېښه د اوه څیزونو په وسیله کتلی شو. ۱ د حادثي ځای شواهد ۲ عکس یا فوتو ۳ اسکیچ یا انځور ٤ مسلکي کسان ٥ نښاني او اثار ٦ منطقي دلیل ۷ باخبر کسان

۲۰ سوال: چلوونکی چا ته وایي ؟

خواب: چلوونکي هغه چاته ویل کېږي چې وسایط سوق، کنترول او اداره کړي. او د ټولو ترافیکي اصولو او قواعدو علم ولري.

۲۱ سوال: د یو ښه چلوونکي صفات کوم دي؟

خواب: د یو ښه چلوونکي صفات هغه دي چې ښه اخلاق ولري او د موټر ضروري شیان خان سره ولري او د ترافیکي قوانینو او مقرراتو تابع دار وی.

۲۲ سوال: چلوونکي په کومو حالاتو کي موټر چلولي نه شي؟

خواب: چلونکي د جسماني نقصان، رواني تکلیف ، نشي په حالت ، ناروغي په حالت، ستړیا او کم خوبي، د موټر سایکل ضد ضربي خولی نه لرل او د لایسنس درجي پرضد نشي کولی چي موټر وچلوي.

۲۳ سوال: چلوونکي کوم اموال نشي کولی چي بارګیري کړي؟

خواب: چلوونکي نشي کولی چي د قانون پرضد اموال او هغه اموال چي قاچاق نومېږي او له خانګړي وزن څخه ډېر بارګیري یا انتقال کړي.

۲۴ سوال: د یو چلوونکي مکلفیت په تونل کي څه شی دی؟

خواب: د یو چلوونکي مکلفیت مخکي له دې چي تونل ته ورسیږي ۱- د موټر سرعت باید کم کړی ۲- دیم څراغونه ولګوي. ۳ - خپل موټر باید ونه دری کېږي. ۴- سبقت ونکړی . ۵- هارن ونه وکړي ۶- د تونل په منځ کي راتاو نه شي.

۲۵ سوال: د تیز تګو وسایطو تر منځ فاصله باید څومره وي؟

خواب: د تیز تګو وسایطو ترمنځ فاصله د سرعت په واسطه تنظیم کیږي. کله چي سرعت ډېر وي فاصله هم باید په همغه اندازه ډېره ونیول شي البته پدې لحاظ باندې چي مخکېنی واسطه د فعتآ برک ونیسي او یا په کوم شي باندې تکر وکی نور وسایط چي وروسته وي وکولای شی چي له تکر څخه خان وساتی.

۲۶ سوال: د باروړونکو یا غټ موټرو تر منځ باید څومره فاصله او په کوم اندازه ونیول شي؟

خواب: د باروړونکو موټرو او یا هغه وسایط چي له ۷ مترو څخه یي اوږد والي ډېر وي فاصله یي ترمنځ باید دومره وي چي یو تیز تګ موټر کله چي غواړي دوي څخه مخکښي شي ، وکولای شي چي په دي فاصله کي داخل او په سلامتیا بیرته خارج شي.

۲۷ سوال : مخکي کیدل په کومو حالاتو او په کومو خایونو کي منع دي؟

خواب: مخکي کیدل په حالات د ګردو غبار، د وربنت په حالت، د وسایطو د ښي لاس نه، په هغه وخت کي چي یو موټر له بل موټر نه مخکي کیږي باید دوهم مخکي کیدونکي مخکي نه شي، په کولاني کي ، تونل کي ختلو او کوزیدو کي، په وړو سرکونو، غیر متقاطع کرښو او په هغه خایونو کي چي د مخکي کیدلو د منع علایم نصب وي مخکي کیدل منع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸ سوال: دریدل په کومو ځایونو کې منع دي؟

خواب: دریدل په تونل ، ختلو او کوزیدو کې، ځلور لارو کې ، ګولائی، د دروازی پر مخ او په هغه ځایونو کې چې د ودریدلو د منع نښې نصب شوې وي دریدل منع دي.

۲۹ سوال: هارن کول په کومو ځایونو کې منع دی؟

خواب : ۱- په هغه ځایونو کې چې د هارن د منع لوحی نصب وی، ۲- د شپې له خوا هارن منع دی، ۳- د روغتون ترځنګ ۴- د ښوونځیو ترځنګ ۵- د یو کس توجه خان ته راورل، ۶- او د ګراج یا د منزل د دروازې د خلاصولو په موخه هارن منع دی.

۳۰ سوال: جیک تاکل شوي حد د سرعت د تیز تګو موټرو په داخل د ښار او د ښار نه بهر په کومه اندازه دی.

خواب: جیک تاکل شوي حد د سرعت د تیز تګو موټرو په مابین د ښارکي د صفر نه تر (۵۰) پورې او بهر د ښار نه صفر نه تر (۹۰) تاکل شوي دي.

۳۱ سوال: جیک تاکل شوی حد د سرعت د باروړونکو وسایطو په داخل د ښار او د ښار نه بهر څومره دی؟

خواب: جیک تاکل شوي حد د سرعت باروړونکو موټرو په داخل د ښار کې د صفر نه تر (۳۰) او د ښار نه بهر د صفر تر(۷۰) تاکل شوي دی.

۳۲ سوال : دریدل په څو ډوله دی؟

خواب: دریدل په درې ډوله دی . الف- عمودی ب- موازی ج- مایل. او باید ودریدل موقعیت ته په کتو وشي.

۳۳ سوال : کوم موټرو ته تیز تک موټر ویل کیږي؟

خواب : هغه موټرې چې وزن یې له درې نیم ټنو ډیر نه وی. او د اوو نه تر اتو کسان پکښې ځای شی.

۳۴ سوال: د مالک او متصرف ترمنځ فرق څه دی؟

خواب : متصرف هغه کس ته ویل کیږي چې عرفی قباله ولری او مالک هغه کس ته ویل کیږي چې شرعی قبالی ولری.

۳۵ سوال : ژیر رنګه څراغونه په کومو حالاتو کې روښانه کوو؟

خواب : ژیر رنګه څراغونه په درې حالاتو کې روښانه کوو. الف - د تخنیکی ستونزو په حالت کې ب- په ترافیکی حادثه کی. ج- ودریدل د سړک په ښي خواکې په موقتی ډول.

۳۶ سوال :په کوم وخت کې (فول) څراغونه لګولی شو؟

خواب: فول څراغونه په اطرافی سړکونو کې روښانه کولای شو.

۳۷ سوال : په کومو حالاتو کې د ترافیکو پولیس کولای شی چې چلوونکی ودروی؟

خواب: د ترافیکو پولیس په ۵ حالاتو کې یو چلوونکی ودرولی شي : ۱- د ترافیکی کنټرول په وخت کې . ۲- د نشې په حالت کې . ۳- د تخنیکي ستونزو په وخت کې . ۴- خوب ورغلي په حالت کې . ۵ د موټر سایکل چلوونکی بدون له خولی نه د موټر سایکل چلولو په وخت کې.

۳۸ سوال:د کیبل او بوکسل اوړدوالی د کش کوونکي او کش کېدونکي وسایطو ترمنځ په کومه اندازه وي ؟

خواب: د کیبل او بوکسل اوږدوالی د کش کوونکي او کش کېدونکي وسایطو ترمنځ له ۲مترو څخه تر ۶ مترو پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| ۳۹ سوال: په کومه اندازه موټري په کېبل او په کومه اندازې موټري باید په بوکسل کش شي؟ |
| ځواب : هغه موټري چي تر پنځو ټنو وزن ولري باید په کیبل او هغه موټري چي پنځو ټنو څخه زیات وزن ولري باید په بوکسل یعني د اوسپني په آله کش شي. |
| ۴۰ سوال: د ترافیکي خاص حالت څه دی؟ |
| ځواب : خاص حالت په ترافیکو کي عبارت دی، په ترافیکي حالات او ترافیکي تاسیساتو کي بدلون راتللو ته وایي چي د چلوونکي مسؤلیت په مقابل د دغه حالت استفاده کول د فرعی سرکونو، د واټ ښي طرف ته ودرېدل او یا د پولیسو نه هدایت غوښتل دی. |
| ٤١ سوال: ترافیکي تاسیسات څه شي ته ویل کېږي؟ |
| ځواب: ترافیکي تاسیسات عبارت دي: سیګنال څراغونه، ترافیکي نښي، د واټ پر مخ کرښي او هغه شیانو ته چي د ترافیکي لارښووني په موخه نصب شوی وي ترافیکي تاسیسات ویل کېږي. |
| ٤٢ سوال: د ودرېدلو او پارکېنګ ترمنځ توپیر څه دی؟ |
| ځواب: درېدل تر ۳ دقیقو پوري وي او پارکېنګ له دري دقیقو نه شروع او ختمېدل نه لري. |
| ٤٣ سوال: چلوونکی په کوم حالت کي کولی شي چي د وسایطو د ښي لاس نه مخکي شي؟ |
| ځواب: په هغه حالت کي چي مخکیني وسایط د چپ لاس اشاره روښانه کری وي او چپ خوا ته تاوېږي نو چلوونکی کولی شي چي د ښي لاس نه یي مخکي شي . |
| ٤۴ سوال: د یو چلوونکي مکلفیت مخکي د رسېدو څلور لارې ته څه شی دی؟ |
| ځواب: د موټر سرعت باید کم کړي او کومي خوا ته چي تاوېږي د همغه خوا اشاره دي روښانه کړي او هماغه عقبي شیشي ته وګوري او هماغه خوا سرک دي قید کړي او بیا همغه خوا ته دي تاو شي. |
| ٤۵ سوال: د ښي پر چپ قاعده په کوم حالت کي د اعتبار ور ده؟ |
| ځواب: کله چي په څلور لارو کي د ترافیکو پولیس، د ترافیکي سیګنال څراغ او ترافیکي نښي موجود نه وي هغه وخت کي د ښي پر چپ قاعده د اعتبار ور ده. |

لوړ سرعت مرګ ته هر کلی کول دي !

**اخندزاده ګرانو هېواد والو ته د خدمت مصدر**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**